دغه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسی

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او ای انسانه! له نه گوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینگ نیولی چې دهغه له اجازی پرته په ځمکه رانه‌پریوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړی بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۲۸ مه گڼه، پرله پسې ۲۷۲ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د تله ۲۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ذوالحجة الحرام ۱۹ مه د۲۰۱۴ م د اکتوبر ۱۴ مه

برگزاری نخستین نشست شورای وزیران به ریاست داکتر عبدالله عبدالله

((بنابر شرایطی که درافغانستان رونماشد، بخصوص جریانات انتخابات، یک مدت در کارها معطلی به وجود آمد و کارها با سکتگی مواجه گردید؛ اما امیداست که بعدازاین، با در نظرداشت چالشهای بزرگی که افغانستان با آن مواجه است، فرصتها را ازدست ندهیم؛ چون مردم ازما توقع دارند.)) (داکتر عبدالله عبدالله)

((حکومت فعلی با چالشهای زیادی مواجه است؛ اما با وحدت میتوان با این مشکلات فایق آمد.)) (انجنیر محمدخان)

((تغییرات به وجود خواهد آمد؛ اما از وزیران سرپرست میخواهد که تا زمان تشکیل کابینهٔ جدید، دلسردی ها را از بین برده و با دلگرمی کار کنند و کسانیکه کارصادقانه کرده اند، فراموش نمیشوند.)) (استاد محقق)

کابل، رسانه ها:
داکتر عبدالله رییس اجرایی حکومت، در اولین نشست شورای وزیران گفت که سرپرستی وزرا، نباید باعث معطلی امور در وزارتخانه ها گردد.
این نشست به ریاست داکتر عبدالله رییس اجرایی حکومت وحدت ملی، دیروز دوشنبه ۲۱ میزان (۱۳۹۳) در قصر مرمرین صدارت برگزار شد.
وی گفت جایی که به مردم افغانستان خدمت صادقانه صورت گرفته، نادیده گرفته نمیشود و قدر آنرا مردم می دانند.
داکترعبدالله خطاب به وزیران سرپرست افزود: "بنابرضرورت تشکیل حکومت وحدت ملی، اینکه شما در وزارتهای مربوطه سرپرست هستین، به معنای این نیست که کارباید معطل شود."
رییس اجرایی حکومت گفت... (ص، ۴)

ولسي جرگه

ولسمشر دې ژر تر ژره خپله کابینه د باور رایې لپاره ور وپیژني

کابل، رسنۍ:
سره له دې چې نوی افغان ولسمشر په دنده پیل کړی تر دې مهاله یې خپله کابینه نه ده اعلان کړې په داسې حال کې چې د افغانستان د مشرانو او ولسي جرگو له ولسمشر څخه د کابینې د ژر اعلان غوښتنه هم کړې ده.
که څه هم د چارو څېړونکي وايي چې نوی ولسمشر باید ژر تر ژره خپله کابینه اعلان کړي خو زیاتوي چې باید اهل او په کار پوه کسان په دندو وگماري.
څېړونکي وايي چې د کابینې د ژر نه اعلان له امله کیدای شي ځینې وزارتونه او کارونه یې د ستونزو سره مخ شي.
ولسي جرگه پر ولسمشر ډاکتر اشرف غني احمدزي ږغ وکړ چې په بیړه د کابینې وزیران د باور رایې لپاره دغې جرگې ته ور معرفي کړي.
د ولسي جرگې منشي سید اکرم وايي، د سرپرستو وزیرانو لخوا د وزارتونو اداره کول ستونزي نوري هم زیاتوي او حکومتي چارې ټکني کېږي.
سره له دې چې د تېر ولسمشر حامد کرزي د کابینې ځینې غړي د نا اهل بلل شوي څکه خو نن د ولسي جرگې ځینو غړیو پر اهل کسانو ټینگار وکړ او وېې ویل چې باید په کار پوه کسان د باور رایې لپاره ور وپیژني.
داسې بریښي، چې ولسمشر ډاکتر اشرف غني احمدزي له خپلو سلاکارانو په دې کار کوي، چې... (۴ مخ)

ډاکتر عبدالله عبدالله له حامد کرزي سره وکتل

کابل، رسنۍ:
دافغانستان د اسلامي جمهوریت اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله پرون د دوشنبې په ورځ د تله ۱۳ مه له غرمې وروسته په خپل استوگنځي کې دافغانستان له پخواني جمهور رییس حامد کرزي سره وکتل.
حامد کرزي د ملي وحدت دحکومت دجوړیدو او داجرائیه رییس په توگه د ډاکتر عبدالله عبدالله او د ده د مرستیالانو دټاکل کیدو له امله مبارکي وویله.
او هیله یې وکړه د ملي وحدت حکومت چې دافغانستان دټولو خلکو استازیتوب کوي ، وکولای شي افغانستان دهمیشنۍ سولې، ثبات او سوکالۍ په لور رهبري کړي.
ډاکتر عبدالله عبدالله د حامدکرزي د تشریف راوړلو له امله د مننې په ترڅ کې په نازکو تاریخي شیبو کې افغانستان ته دده دکار او خدمتونو او په سوله پیژه توگه دقدرت دلیږدونې لپاره دزمینې دبرابرولو له امله... (۴ مخ)

ترکیه د «اسلامي دولت» پرضد ائتلاف سره همکاري کوي

ترکیې امریکا متحدو ایالاتو ته له خپلو هوایي اډو څخه د «اسلامي دولت» ډلې پر ضد د هوایي عملیاتو د ترسره کولو اجازه ورکړې ده. دا پریکړه پر ترکیې باندې تر نړیوال فشار وروسته د انقرې له خوا نیول شوې ده

د امریکا متحدو ایالاتو د ملي امنیت مشاورې سوزان رایس، په یوه تلویزیوني مرکه کې اعلان وکړ چې ترکیې امریکا متحدو ایالاتو او د هغه ملگرو ته اجازه ورکړې ده چې د دې هیواد له اډو څخه په سوریې او عراق کې د اسلامي حکومت پر ضد عملیاتو ترسره کولو په موخه کار واخلي.
امریکا او متحدین یې په عراق او سوریه کې د اسلامي دولت ترهگرې افراطي ډلې پرضد هوایي عملیات ترسره کوي. همدا اوس امریکایې پوځې چارواکې په دې اړه یو له بل سره بحثونه کوي چې ایا د دغې ترهگرې ډلې پر وړاندې ځمکني عملیات هم ترسره کړي، که نه؟
سوزان رایس ویلي دي: «موږ له ترکانو څخه نه دي غوښتي چې سوریې ته خپل عسکر واستوي. زموږ گټه په دې کار کې ده: تر ټولو لومړی ترکانو په وروستیو ورخو کې ژمنه کړې ده چې... (۴ مخ)

اظهارات غیر مسؤولانه ادارات حقوق بشر غربی در برابر محاکمه چند مجرم حرفوی در افغانستان

فدامحمد فایض

هموطنان عزیز ما اطلاع دارند که اخیراً گراف جرایم در کشور آنقدر بالا رفته بود که بالاخره حادثهٔ دلخراش پغمان صورت گرفت، البته این تنها حادثهٔ پغمان نبود؛ بلکه مانند این حوادث ناگوار متعددی از قماش تجاوزات جنسی، آدم ربایی، قتل، قطاع الطریقی و ده ها جرم و جنایت دیگر. اینکه چرا این جرایم کنترول شده نتوانست یا چرا گراف جرایم با گذشت هر روز بالا رفت عوامل متعددی میتواند داشته باشد که علل العلل آن موجودیت یک دولت ضعیف بود که نه اراده یی داشت و نه جرأتی و نه هم میخواست دامن مصلحتها را از دست بدهد. گپ بجایی رسیده بود که قاتلان و آدم ربایان و دزدان حرفوی در زیر سایهٔ دولت گشت و گزار داشتند؛ ولی دولت نمیتوانست آنها را گرفتار کند. چون مجرمان در داخل دستگاه دولت هم بدون حامی نبودند.
بالاخره حادثه پغمان: چون پغمان در فاصلهٔ بسیار نزدیک به شهر کابل قرار دارد... (ص، ۳)

اشتاین مایر:

اشتراک نیروهای آلمان در عملیات های نظامی افغانستان اشتباه جدی بوده است

کابل، رسانه ها:
وزیر خارجه آلمان، پس از سقوط رژیم طالبان اشتراک نیرو های این کشور در عملیات های نظامی افغانستان را اشتباه جدی خوانده است.
در حالیکه ماموریت نظامی ناتو به رهبری ایالات متحده امریکا در افغانستان تا حدود ده هفته، آینده پایان می یابد، فرانک والتر اشتاین مایر در مطلبی که دیروز به نشر رسید، یک ارزیابی جدی از این ماموریت ۱۳ ساله را ارائه کرده است.
اشتاین مایر در شماره روز یکشنبه روزنامه، فرانکفورتر الگمانیه نوشته است که بزرگترین اشتباه آلمان... (ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اصلاحات ضرور است؛ اما نه با تعجیل و یک جانبه

حقیقت آن است که مردم افغانستان تا بحال شاهد یک نظام ایده آل خود نبودند، بر این اساس هر لحظه امید همچو یک نظام را در دل می پرورانند. ما به دولت وحدت ملی باوجود ملاحظاتی که داشتیم و داریم خوشبین هستیم و این را به تأیید حرف آقای عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان به عنوان «اخف ضررین» پذیرفته ایم. اگر تصور کنیم که اگر همین دولت وحدت ملی هم تشکیل نمیشد پس چه وضعیتی در کشور بمیان میآمد؟ پس بمصداق «الخیر فی ما وقع» هم وجود همچو یک دولت هم در مقایسه به آنچه تصور آن میرفت غنیمت است. اکنون تعلق به دو تیم دارد که تا چه حد توطیه های پشت پرده را درک کرده میتوانند و در خنثی سازی آن میکوشند. ما فعلاً قضاوت نمیکنیم؛ بلکه منتظر میمانیم تا دیده شود دولت جدید چه راهی را در پیش میگیرد. آیا دولت جدید هم تکرار سیزده سال گذشته خواهد بود و باز بازار خویش خوری، قوم پروری و فساد اداری گرم خواهد بود یا نی که به این امراض موذی نقطهٔ پایان خواهد گذاشت؛

اما تا جایی که مربوط میشود به اصلاحات، بدون شک اصلاحات نقطهٔ مشترک در اهداف دو تیم حاکم بود. معنای تحول هم همین است که باید آن وضع ناگوار که دیگر بر سر شانه های ملت سخت گرانی میکرد، پایان یابد و معنای اصلاحات هم همین است و اکنون که دو تیم پیشتاز با هم در یک دولت یکجا شدند همگرایی هم تحقق یافت. اصلاح در نظام خیلی ضرور است؛ ولی کار یک روز نیست. این اصلاحات باید تداوم یابد، شاید یک دوره پنج ساله دولت هم برای آن بسنده نباشد. افرادی که در فساد دست داشتند کم نبودند و نیستند. ما به این باوریم که وجود همچو افراد و عناصر خطرناکتر از افرادی است که جنگ مسلحانه را در برابر دولت براه انداخته اند. وقتی همهٔ این افراد درک کنند که در یک خط تصفیه قرار دارند، حتماً دست به یک سلسله تخریبات و ایجاد مشکلات خواهند زد. برای اصلاح تنها همین هم کفایت نمیکند که دست فاسد از کار دولت گرفته شود؛ بلکه مهمتر از آن قدم بعدی است و آن مسأله «احتساب» است. از آنها باید پرسیده شود که «چه کردی؟» و «از کجا کردی؟» مسلماً آنها برای این پرسشها، پاسخ ندارند: ولی باید برای تصفیهٔ همچو افراد از تدبیر کار گرفته شود و دولت نوپای به یکبارگی حساسیتها را در برابر خود بر نینگیزد. ما باور داریم بجز از افراد قلیلی که دست و دامن شان به فساد آلوده نشده، دیگر هیچکدام از آنهایی که در فساد شریک بودند، جوابی ندارند.

از سوی دیگر اصلاحات باید یکجانبه نباشد، به یکبارگی عزل مسؤولین یک اداره و استخدام افراد جدید بجای آنها با آنکه اقدام مثبت باشد؛ ولی از نگاه تدبیر کار قابل تأمل است. البته اینکه باید تمام کارمندان مسن در دولت هم جای خود را بجوانان تخلیه کند بدور از مصلحت است، شاید این جوانان تحصیلکرده باشند. ولی با تجربه نیستند و تجربه بیشتر از دانش اهمیت دارد. در حقیقت تجربه هم بدون دانش بوجود نمیآید. خیلی از جوانان با تحصیلات عالی در برخی از ادارات مقرر شده اند؛ ولی با آن هم می بینی که محتاج همان مامور کهنه کار آن اداره هستند و از آنها استمدار می جویند.

وقتی اصلاحات صورت میگیرد باید هر دو تیم شامل در دولت در مورد توافق کنند، نه شود که یک روز رئیس جمهور تمام مسؤولین یک اداره را برطرف و بجای آن افراد دلخواه خود را نصب کند و روز دیگر رئیس اجرائیه در مورد یک اداره تصمیم مشابه بگیرد، باز هم میگوییم که قاطعیت به ارتباط اصلاحات قابل تقدیر و تمجید و از سویی هم نیاز است؛ ولی این را هم فراموش نکنیم که موانع بر سر راه اصلاحات کم نیست، باید با این موانع برخورد معقول و مؤثر صورت بگیرد؛ زمانی که تصمیم گرفته میشود باید جامه عمل پوشیده بتواند و مجالی برای پس لرزه ها نباشد.

عبیدالله صافي

د پوهنې په ډګر کې له کمیت نه کیفیت زیات مهم دی

د هېواد ماشومان زموږ راتلونکی سرمایه او معماران دي؛ خو له بده مرغه ددوی د سالمې روزنې او پالنې لپاره هومره مناسبه پاملرنه نه ده شوې څومره چې ورته اړتیا ده. موږ پخپلو سترګو وینو چې د نوری نړۍ شاګردان د ژوند په هر ډګر کې پرمخ روان دي او له زده کړې وروسته ددې جوګه کېږي چې نه یواځې خپلو هېوادوالو ته؛ بلکې د نورې نړۍ وګړو ته هم د خدمت مصدر وګرځي؛ نوي نوي ایجادات کوي او په ورځني ژوندانه کې اسانتیاوې رامنځته کوي، مګر د افغانستان ماشومان له دغه ستر نعمت نه محروم ژوند تېروي. دا خبره ګرده نړۍ مني چې علم او پوهه د ټولو بدبختیو، ناخوالو او ستونزو د له منځه وړلو یواځنۍ موثره نسخه ده او همدا علم دی چې انسانیت ته د ژوند په ټولو برخو کې نیکبختي او خوښي ورکوي. لوی الله پخپل سپېڅلی کتاب قرآن کریم کې د علم او پوهې د اهمیت په اړه په څرګندو ټکو کې فرمایلي دي چې؛ عالمان او جاهلان سره کله هم نشي برابرېدلای، او محمد صلی الله علیه وسلم خپل امت ته لارښوونه کړې چې د علم د ترلاسه کولو په خاطر که چین ته هم د سفر ضرورت وي؛ نو لاړ شئ او زده یې کړئ.

هغه بله ورځ رسنیو د افغانستان د ملي یووالې چارواکو له خولې د ښوونکو د معاشاتو د زیاتولو یو ښه زیرې ورکړ، ټول علم پروره افغانان د چارواکو ددغه نیک اقدام هرکلی کوي او دا د ښوونې او روزنې په ډګر کې ښه پرمختګ ګڼي؛ مګر ددې ترڅنګ د خپلو مشرانو غوږونو ته دا خبره هم رسول غواړي چې ښوونکي دې هم مکلف کړي چې خپل مسؤولیت په ډېره ایمانداری ترسره او له زده کوونکو سره مناسبه خواري وکړي. د تېرو دیارلسو کلونو راهیسې چې د هېواد په ټولو ولسوالیو او کلي قریو کې څومره ښوونځي او لیسې جوړې شوې پخپل ځای یو ښه پرمختګ دی؛ خو که کیفیت ته وکتل شي؛ نو د پوهنې په ډګر کې تراوسه هغه دوه فیصده مقاصد هم نه دي ترلاسه شوي چې د پوهنې په ډګر کې په لویه کچه د ترلاسه کېدو انتظار کېده، په ډېرو سیمو کې ښوونځي او ښوونکي شته، مګر درسونه نشته، شاګردان په منظم ډول حاضري ورکوي؛ خو زیات ښوونکي له خپلو مسؤولیتونو ناخبره دي او خپل شخصي کارونه پرمخ وړي، زه دا نه وایم چې ټول ښوونکي له خپلو دندو غافل دي. الحمدلله ډېر داسې استادان هم لرو چې خپل مسؤولیت په ډېر شوق او ذوق ترسره کوي، منظمه حاضري ورکوي او له زده کوونکو سره خواري کوي، دغه استادان د افغانانو د زړونو سر او د سترګو تور دي او په دواړو لاسونو ورته سلامونه کوي؛ خو له هغو ښوونکو څخه هم سترګې نشو پټولای چې له خپلو مسؤولیتونو غافل دي. اصلاً یو استاد هله د استاذۍ په قدر او قیمت پوهېږي چې هغه شاګرد پاتې شوی وي، سبقونه یې ویلي وي او د علم په ترلاسه کولو کې یې زیار ایستلی وي. متأسفانه موږ وینو چې د تېرو ۱۳ لومړنیو کلونو کې په ښوونځیو او لیسو کې داسې استاذان په دندو ګومارل شوي دي چې هغوی ډېر کم درسونه ویلی دي، جعلي اسناد یې جوړ کړي او د رشوت له لارې یې د استاذۍ په پاکو دندو ګېډه اچولی ده، زه چې د خپلې سیمې په لیسو او ښوونځیو کې څومره استاذان پېژنم له هغو نه د ډېرو استاذانو علمي سویه دومره کمزوری ده چې ان د څلورم، پنځم ټولګی کتابونه هم په صحیح ډول نشي تدرېس کولای، املايي غلطی دومره خندوونکي دي چې د ګ - ږ، ص - س، خ - ښ ترمنځ هم فرق نشي کولای. په املا کې د (ږ) پرځای (ګ)، د (ص) پرځای (س)، د (خ) پرځای (ښ) او (ق) پرځای (ک) لیکي.

ډېری استاذان داسې هم شته چې نه په ضرب پوهېږي او نه په تقسیم، نه د پښتو درس ورکولای شي او نه هم د دري او نورو عصري علومو، په دیني علومو کې هم ډېر داسې استاذان مقرر شوي چې هغوی اصلاً څو ابتدایي کتابونه هم نه دي ویلي. په سلو کې دوه ماشومانو ته هم خپل لمونځ یاد نه دی او خپل سپېڅلی کتاب قرآن کریم هم نشي لوستلای. په سلو کې ۵ زده کوونکي چې په اتم او نهم ټولګي کې زده کړې کوي د کتاب عبارت نشي لوستلای. پر الله قسم داسې ښځینه استاذانې هم د استاذۍ پر دندو ګومارل شوې چې هغوی نه د کتاب عبارت لوستلای شي او نه هم د ساده ضرب او تقسیم سوالونه حلولای شي، نه دوه کرښې خط لیکلای شي او نه هم د کتاب د عبارتونو تشریح او تفسیر کولای شي. ښوونځي د ژمي مثال لري او شاګردان دهغې فصل، که ژمکه څومره آباده کړای شي؛ خو چې فصل ترینه ترلاسه نشي هغه ژمکه د هیڅ درد دوا نشي کېدلای. د پوهنې وزارت د پوهنې په برخه کې پخپل ځای ډېر فعالیت کړی او د افغانستان په ګوټ ګوټ کې یې لیسې او ښوونځي جوړ کړیدي، تر ډېره حده یې پر استاذانو هم پاملرنه کړی او حقوق یې پرځای کړي دي. د افغانستان وګړي یا د وزارت دغو خدمتونو ته د قدر په سترګو ګوري او زیارکښه واقعي استاذانو هم شکریه ادا کوي چې د شاګردانو په روزنه کې یې زیار ایستلی او علمي سویه یې جګه کړی ده؛ مګر ددې ترڅنګ د پوهنې له محترم وزارت څخه هم جداً هیله کوي چې د ښوونې او روزنې په برخه کې نور هم ګړندي ګامونه اوچت کړي او دهغو نیمګړتیاو د له منځه وړلو لپاره چټک کارونه پرمخ یوسي چې لاتراوسه ورته پاملرنه نه ده شوې؛ ځکه چې زموږ ماشومان د خپل هېواد راتلونکي معماران او د هېواد د پرمختګ اصلي بنسټګران دي، تر هغې پورې چې دوی د تعلیم او زده کړې له اوچت نعمت نه، نه وي برخمن شوي زموږ د هېواد د پرمختګ ارمان نشي پوره کېدلای. په نننۍ پرمختللی نړۍ کې د معیاري او ښه تعلیم کلکه اړتیا ده، تر هغې چې د علم او پوهې په ډګر کې قابل او زیرک شاګردان ونه روزل شي د نورې نړۍ له محتاجۍ نه خلاصون نشي ترلاسه کېدلای. نه به د طب په ډګر کې ښه ډاکټران ولرو او نه به هم د انجنیری، ساینس، زراعت، تجارت او ټکنالوژۍ په ډګر کې، موږ به هله د خودکفایي په لور ګامونه اوچتوو چې خپل ماشومان د علم په ګاڼه سنبال کړو، دهغوی لیاقت تر دی کچې ورسوو چې د نننۍ عصر د علومو په زده کولو کې له کوم مشکل سره لاس او ګرېوان نشي او په آسانه وکولای شي له هېواده دباندې په پوهنتونونو کې د زده کړې پر وخت هر څه یاد او په ذهن کې ځای پرځای کړي.

دا خبره هر چاته ثابته شوې چې په اوسني عصر کې یواځې هغه قومونه او ملتونه خپل استقلال، هویت او بقا ساتلای شي چې د پوهې په ډګر کې ورانديې وي ا د ژوند په ټولو برخو کې یې بل چاته د ګدایي لاسونه، نه وي نیولي، په اوسني وخت کې افغانان له بل هر چانه زیات علم او عرفان ته ضرورت لري؛ ځکه چې افغانستان په ګرده نړۍ کې تر ټولو وروسته پاتې دی او له دینه د خلاصون یواځنۍ لاره همداده چې د علم او پوهې په مختلفو ډګرونو کې پرمختګ وکړي؛ نو ځکه په هېواد کې د علم او پوهې په ډګر کې جدي پاملرنې ته اړتیا ده او د داسې غښتلو بنسټونو د قائمولو لپاره جدي هڅه پکار ده چې زموږ د ګران هېواد تعلیمي سویه معیاري او زموږ هر شاګرد په هر مسلک کې دومره غښتلی او لایق شي چې د خپل هېواد ټول مات ګوډ سم او له نوي سره پر پښو ودروي، که خدای مه کړه د دومره امکاناتو سره سره بیا هم د تعلیم معیار او کیفیت ته پاملرنه ونشي؛ نو د تیر په څېر به د مات ګوډ ژوند له عذابه نه خلاصېږو او ستونزي به مو د کمېدو پرځای نورې هم زیاتېږي او له یو داسې نه هېرېدونکي برخلیک سره به مخامخ کېږو چې له ارمان پرته به بل هیڅ نشو کولای. که زموږ چارواکي واقعاً د هېواد د پرمختګ ارمانجن وي او غواړي چې د نړۍ په سر خوشحال او سرلوړی ژوند ولري؛ نو د پوهنې په ډګر کې دې جدي اصلاحات رامنځته کړي د کمیت ترڅنګ دی کیفیت ته هم لومړیتوب ورکړي ځکه چې کمیت او کیفیت دواړه د بایسکل د مخکینې او وروستي ټایرونو په څېر پخپلو کې لازم او ملزوم دي.

له محترمو ښوونکو څخه هم جداً هیله کېږي چې د ماشومانو په روزنه او پالنه کې له هر څه زیات پاملرنه وکړي، د اسلام د پاک دین له نظره استاذي ډېره سپېڅلی دنده ده، کوم اجر او ثواب چې استاذ ته ورکول کېږي بل هیچاته نه ورکول کېږي. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پخپلو ارشاداتو کې فرمایلي دي چې په تاسو کې هغه څوک غوره دي چې بل چاته علم نقلوي او د پوهې په ګاڼه یې سنبالوي. له څه شک پرته استاد او شاګرد د ټولنې هغه دوه مهم قشرونه دي چې هېواد د خیرښېګنې، پرمختګ او خوشحالي په لور روانوي او د رڼا ژوند ورته په برخه کوي.

فروغگر

د استجواب او استیضاح ترځنګ اوس د استحساب اړتیا

د افغانستان د پخوانی جمهور رئیس ښاغلي حامد کرزي دیارلس کلنه دوره که څه هم د افغانستان اولس ته تر څه بریده لاسته راوړني هم درلودې؛ خو هغه نیوکې چې د ده پر کابینه کیدې، هغه یې څکه له ځوابه معذور و چې ډیری دغه شان چارواکي په افغانستان کې د بل چا پر موږی خیزوته وهل؛ لکه چې په خپله جمهور رئیس ویل: «وزیر زما دی خو فرمان د یو خارجی هېواد څکه مني چې پرون یې د نوی مودرن موټر کلي ورکړی» دلته باید دې ټکي ته اشاره وکړم چې دا جمله کټ مټ د جمهور رئیس وینــا نه ده؛ بلکې ما یې د مطلـب خلاصه راخیستې ده.

له همدی لامله په دې دیارلسو کلونو کې یو شمېر وزیرانو د افغانستان پر اولس هغه کاني وکړې چې والله که یې یو اجنبی د چا په حق کې وکړي. یو خو ددوی ډیریو د اړونـدو وزارتـونو استعداد نه درلود او نه هم مسلکي خلک وو، لکه چې می د پخواني جمهور رئیس په نقل قول کې مې ورته نفوته وکړه (تېل شوی وزیران وو)؛ نو له فرصت نه په استفادی سره یې د وزارت پر عایداتو او بودجې منګولې ښخې کړې او داسې یې ومروړل چې چاته یې پته هم ونه لګیده چې څه پرې وشول، چیرته لاړل، چیرته ذخیره شول. حکومت له یوه پلوه د بهرنیانو تر سخت فشار لاندې و او له بله پلوه، ګاونډیانو د همدغو بهرنیو اجنسیو په مرسته په هېواد کې د ترور او اختناق داسې بازار ګرم کړی و چې یوازې د ۱۳۹۲ هـ ش کال په دوران کې زموږ ۵۲۳ یا ۵۶۳ قومي مشران د جهاد نومیالي قوماندانان او په زرهاو ملکي وګړي ووژل شول، جمهور رئیس یوازې و، هیڅ یې نشوای کولی او ګرم یې څکه بولو چې دومره انعطاف او دومره حوصله هغه هم ددغسې چارواکو په وړاندې دا په خپله یو تاریخي تور دی چې د تیر حکومت پر ۱۳ کلنې دورې لګېږي، خو له دی حقیقته باید له آره سترګې پټې نکړو چې په دې جهت کې اولسي جرګې او مشرانو جرګې د دغو عناصرو په وړاندې د استیضاح او استجواب لاره غوره کړې وه د همدوی له خوا به دغه چارواکي د جمهور رئیس له انتخابه وروسته د رایو په اکثریت ټاکل کېدل او ډیر مهال داسې کېدل چې وزیر ته به تر دې مخکې چې پارلمان ته لاړ شي کمپاینونه کیدل او په ملیونونو ډالر به په دې لاره کې لاندې باندې کیدل؛ څکه مونږ ولیدل چې وزیر همدغه پارلمان سلب اعتماد کړ، خو چې کله د دوهم ځل لپاره یو بل وزارت ته ورمعرفي شول بیایې د آراو په اکثریت سره ورته د اعتماد پله درنه کړه. په دغه دیارلس کلنه اوږده دوره کې، پر دغو چارواکو ډول، ډول تورونه پورې شول؛ خو نه چا قضا ته کش کړل او نه څارنوالي ته معرفی کړل، نتیجه یې دا شوه چې د ورځو په تېرېدو سره د امنیتي وضعیت له خرابیدو سره سره د اداري فساد جرړې دومره غزونې وکړې چې ملت یې د پولی «ټک» ته کیناوه؛ اوزګارتیا، د کار نشتوالی، د خوراکي توکو او نورو وسایلو بیې آسمان ته وختلې او د ملت شاوخوا ۷۵ سلنه نفوس د فقر تر کرښې لاندې لاړ، دا ښاغلي اوس هم پر خپلو چوکیو ناست دي او اوضاع څاري، کورنی وظیفه کوي، پلان جوړوي، لوري او لارې کوري چې څه باید وکړي او د ملي وحدت یوه اونیزه قاطعیت پر ډیریو خوب حرام کړی دی چې که چېری نوی حکومت له دوی نه حساب واخلي، دوی به څنګه حساب ورکوي؟!

هو! د مطلب ټکی همدغه دی! که چېرې زمونږ د اولس نماینده ګانو د وزیرانو او نورو لوړ پوړو چارواکو د نمایشي استیضاح او استجواب لاره نیولې وه او خپلو عایداتو ته یې کمپاینونه کول؛ نو د ملي وحدت حکومت دی یو شی نور هم پرې ورزیات کړي چې هغه «استحساب» «احتساب» یا حساب کتاب دی او دا کار فکر کوم حکومت ته دومره ګران کار هم نه دی؛ څکه حکومت تکنوکراتان لري، دولتمردان لري، متخصص وګړي ورسره شته، له «استقراء» نه دې کار نه اخلی ددې بهیر د «استعلایي» څېړنې پر لور دې ګام واخلي، لومړی دې د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ کال دوسیې پرانیزي او شکمن چارواکي دې د حساب کتاب په چانیز عمل کې د تور او سپین محک ته وسپاري هغه د حافظ په وینا:

خـــوش بود گر محـــک تجربه آید به میان
تا سیاه روی شود هر که در او غش باشـد

یوه با صلاحیته کومیټه دې وټاکی او د جمهور رئیس او اجرایی ریاست تر څارنې لاندې دې ددوی له یو یو نه ددغو دوو کلونو حساب واخیستل شي، لکه چې په خپله د نوی حکومت جمهور رئیس محمداشرف غني احمدزي یو ورځې په خپلو څرګندونو کې لومړی کابل ښاروال ته ګوته ونیوله او ویې ویل: «ګران کار نه دی؛ د کابل خلک به راوغواړم او پنځه کسان به ور په ګوته کړم پر هر یو چې دوی لاس کېښود هماغه به د کابل ښاروال وي» که څه هم دجمهور رئیس دغه جمله ډیرو هسې یوه خبره وګڼله؛ مګر که یې ژورو ته لاړ شو، په دې څو کلونو کې چې د کابل په ښاروالۍ کې هغه فساد رامنځ ته شوی فکر کوم ددې ښاروالي په تاریخ کې سابقه نه لري، زما په اند دا د نوي جمهور رئیس له ترجیحاتو دی چې کابل ښاروال حساب کتاب ته راوبولي!! د کابل سړکونه وګورئ! نن رغیږي، دوه میاشتی پس بیا د باران سیل په کې روان وي او د باران په ودریدو سره وچ خوړ تری جوړ شي! ولی؟ څکه چې په من کې پاو قیر په کې کارول شوی نور ۱۵ پاوه یې تور رنګ او دډېرو سکاره‌دي، پر یو سړک میلیون ډالر مصرف راځي؛ خو مصرفیږي پکې څو میلیونه افغانی هغه هم له درغلیو سره، آیا څوک نشته‌چې پوښتنه وکړي؟ ولې د پلازمینې خلک هره ورځ ۲ کیلو ګرامه ککړې خاورې له ککړې هوا سره تنفس کوي؟! ددغو دومره سترو ناروغیو د پیدایښت لامل څه شی دی؟ په اولس کې دا توان شته چې د توخي د ناروغۍ لپاره هم پاکستان ته منډې ووهي؟ دلته خو یا ډاکټر نشته یا خو وسایل نه لري چې دا په خپله د پوښتنې یو بل ځای دی چې نوی حکومت یې باید پوښتنه وکړي!

راه معقول برای جلوگیری از فساد اداری و بی بندو باری ها

احمد خالد (فیاض)

افغانستان یک کشور عقب مانده و دچار به مصایب و مشکلات است، دزدان، راهزنان و دشمنان زیادی دارد، دزدان از یکسو و دشمنان از سوی دیگری پیکر این کشور را، لرزان تر ساخته مردم متدین و دین دوست آنرا به پریشانی ها مبتلا ساخته اند، بدبینان داخلی لاف از صداقت، خدمت و اخلاص و دشمنان خارجی هم از دلسوزی، شفقت و حمایت حرف می زنند در حالیکه نه بدبینان داخلی راست می گویند و نه دشمنان خارجی.

در چنین شرایط بحرانی قانون به طاق نسیان گذاشته شده، زور و زر حکومت می کند برای هر کرسی قیمت خاص تعیین شده، چوکی ها روی یک معامله و در بدل مبالغ هنگفت به فروش می رسد، کرسی نشینان پروای مردم را نداشته، وجاهت و عزت چوکی را در نظر نمی گیرند، سنجش روی عواید، مدارک و مفاد صورت میگیرد.

این حالت خطرناک و اسف انگیز وجدان ها را در خواب برده، احساس ها را کشته است مردمان که ظاهراً متشرع اند برای رسیدن به کرسی دلخواه که عواید خوبتر داشته راه را برای دریافت هزینه های هنگفت مالی باز و هموار سازد مجدانه تلاش می کنند و حتی المقدور می کوشند تا با استفاده از هر نوع سیاست محیلانه چوکی را به دست آورند و با سخنان ظاهراً ملمع و عوام فریبانه عزایم سؤ شان را پنهان نگهدارند و تا آخرین توان و نیرو در فساد و بی بندو باری فرو رفته با منتهای قساوت قلبی عمل کنند و وضعیت دلخراش کشور را خرابتر سازند.

در حال حاضر فرد عاقل، هوشمند و دلسوزی سراغ نمی گردد که با داشتن صلاحیت و قدرت دولتی در فکر انسجام مردم و نجات از حالت حاکم بر کشور باشد و اکثر متولیان امور با از دست دادن بصیرت و تشخص، نه برحال مردم اشک می ریزند و نه عاطفه و ترحم دارند هر فرد مقتدر دولتی، جهت فریب مردم ادعاهای میانتهی دارد، چنان فکر می کند که دست آوردهای زیادی در دست داشته مشکلات زیاد کشور حل شده است، در حالیکه برعلاوه فساد اداری، فساد اخلاقی درین اجتماع راه یافته است. فساد اداری در دستگاه های دولتی راه را برای آشوبگران و دزدان باز کرده امنیت را مختل و مصونیت جان، مال، ناموس و عزت مردم را زیر سؤال قرار داده است، آمار مفسدین روز افزون شده وقایع جنایی دلخراش روز به روز زیادتر می شود.

حاکمان دولتی نمی توانند که به این مشکل رسیدگی کنند، نیروهای خارجی در پی دریافت اهداف خود اند، اصلا نمی خواهند که افغانستان دارای قدرت قوی و وحدت نظر بوده مردم در پیشبرد کارها هم آهنگ باشند، اختلاف افغان ها و نداشتن دولت نیرومند دلیل خوشحالی و تعقیب برنامه های استعماری خارجی ها میگردد، افغان ها و حکومت موجوده نمی توانند که در انسجام امور با به دست گرفتن برنامه های درست و معقول که اسلام در آن تضمین و مردم از آن راضی باشند کار و عمل کنند.

در چنین حالت وخیم که از هر طرف کشور ما مورد تاخت و تاز قرار گرفته مشکلات و مصایب روز افزون میگردد راهی برای نجات وجود ندارد مگر آنکه اسلام که دین رسمی این کشور است بر این کشور حکومت کند و با اجراء و تنفیذ عدالت اسلامی، دست های دشمنان داخلی و خارجی کوتاه و قانون مکافات و مجازات در عمل تطبیق و مردم در چوکات شریعت تنظیم شوند، اصلا عنوان کردن اسلام در یک کشور اسلامی، بدون آنکه احکام و حدود آن رسماً از طرف دولت تطبیق گردیده از آن پاسداری شود، حلال مشکلات نیست، بلکه چنین روش راه را برای استفاده جویان و تبه کاران خوبتر باز و هموار می سازد؛ زیرا آنها می دانند که این حرفی است که در کاغذ نوشته و به زبان گفته میشود اما در عمل پیاده نمی گردد و اکثریت کسانی که از قانون حرف می زنند خود در فساد غرق و متهم به تخطی از قانون اند و تضمین و قاطعیت برای اجرای آن وجود ندارد، برای اینکه ما و کشور ما از مشکلات نجات یافته راه نفوذ و سیادت دشمنان داخلی و خارجی مسدود و کاملاً قطع گردد لازم و ضروری است که احکام اسلامی در تمام ادارات دولتی، در قدم اول در ادارات قضایی و عدلی پیاده گردد و کسانی توظیف گردند که برعلاوه داشتن سوابق روشن اسلامی، عادل و منصف بوده به گروه های ضد دینی وابسته و متهم نباشند، تنها دانشمندان واقعی دین و متخصصین کار فهم که در پهلوی فهم و درک اسلامی، خصایل و صفات عمده اسلامی را دارا بوده تمایلات سمتی، نژادی و قبیله ای نداشته دراجرا و تطبیق حدود تحت تاثیر زورمندان قرار نگیرند، گماشته شوند.

آری! تنها اسلام عزیز و تطبیق احکام و حدود این دین مقدس است که امنیت را تأمین، عدالت را تضمین و ملت را سرفراز می سازد، با تطبیق و اجرای حدود شرعی دشمنان اسلام از امیدواری هایی که از مردم افغانستان دارند، مأیوس می شوند و معامله گران خودفروش که به غلامی و دنائت تن داده، کافر را بر مسلمان ترجیح می دهند از دنباله روی بیگانگان انصراف کرده با ملت می پیوندند و بیش از این در تحقیر و کم بینی مردم نه پرداخته، افکار مادی کمتر شده در رشد و ارتقای معنویت برنامه ریزی می شود، خصوصیات بد و روش های نابکار که در بخش های مختلف دیده می شود، در میان طبقه جوان کشور راه پیدا نمی کند، بالاخره با تلاش پیهم و توجه همه جانبه برای آینده کشور، نسل بعدی و جوانان امروزی با اخلاص و صداقت امور جامعه را به دست گرفته در رده های بلند دولت جای می گیرند و این فکره در عمل پیاده شده آهسته آهسته با گذشت زمان، حالت دردناک کشور تعویض و همه مردم با فضایل و خوبی ها عادت می گیرند و اسلام به شکل واقعی تمثیل و عملی گردیده اختلافات از میان ملت دور و مردم در فضای اخوت و برادری با صلح و آرامش زندگی می کنند.

شهادت اونیزه

د حزب اسلامی افغانستان نشراتی ارگان

خپرونکی اداره د حزب اسلامی افغانستان فرهنګی خانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامی افغانستان
مسوول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل خلیل

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

اظهارات غیر مسؤولانه ادارات حقوق بشر غربی در برابر ...

(ادامه از صفحه اول)

...این موضوع خیلی رسانه یی شد و بگوش تمام هموطنان ما هم رسید و بگوش جهانیان هم رسید. دولت وقت هم مجبور شد در برابر آن توکل بخدا گفته عکس العمل شدید نشان دهد. از جملهٔ ده نفر عاملین حادثه پغمان هفت نفر آن گرفتار گردید که سرانجام دو نفر به بیست بیست سال حبس تنفیذی و پنج نفر به اعدام محکوم شدند. رئیس جمهور پیشین آقای حامد کرزی هم فیصلهٔ اعدام آنها را توشیح کرد و بالاخره حکم بعد از انتقال قدرت تطبیق گردید و در پهلوی آن حبیب استالف یکی دیگر از قاتلان، و دزدان حرفوي، و آدم ربایان که او نیز به چنگ پولیس افتاده بود گرفتار و همراه با عاملین قضیهٔ پغمان به دار آویخته شد.

چنین یک اقدام جرأتمندانهٔ دولت مورد استقبال کافهٔ ملت افغان قرار گرفت. در برخی از ولایات به پشتیبانی ازین اقدام دولت گردهماییهایی صورت گرفت. تا جایی که من خود شنیدم نمایندهٔ کمیسیون حقوق بشر افغانستان هم گفت که ما درین رابطه اعتراضی نداریم و باید قوانین افغانستان به منصه اجرا درآید؛ اما سازمان عفو بین الملل یا ایمنستی انترنیشنل از دولت افغانستان خواست، حکم اعدام را لغو کند و زمانی که این حکم علنی شد آنرا با الفاظ نازیبا محکوم نمود.

من نمیدانم که سازمان عفو بین الملل که یکی از ادارات ممثل اهداف شوم استکبار غربی است از حقوق بشر چه تعریفی دارد و برای حفظ حقوق بشر چه راه و روش و برنامه یی سنجیده است؟ این کدام عدالت و انصاف است که چند فرد ولگرد و جرایم پیشه در سرک عمومي موترهای شخصی را توقف بدهند، پول و دارایی افراد نشسته در موتر را به یغما برند، دستها و پاهای شان را ببندند و بالای زنان مربوط خانوادهٔ آنها تجاوز جنسی بکنند. این انتهای جنایت و قساوت است. آنها تنها همین یک جرم را هم مرتکب نشده بودند، بلکه مجرمین متکرر بودند. سرغنهٔ آنها بعد از سپری نمودن یازده سال زندان، باز هم به همان جرم و جنایت رو آورده بود بقول حضرت سعدی:

پرتو نیکان نگیرد هر که بنیادش بد است
تربیت نااهل راچون گردکان برگنبد است

من نمیدانم غربیها در قاموس زندگی خود واژه یی بنام عدالت دارند یا خیر و عدالت را چگونه در جامعه تأمین میکنند؟ ایا در غرب قانون جزا وجود ندارد؟ اگر سازمان عفو بین الملل واقعاً مخالف اعدام ها باشد پس چرا در برابر کشتن ایمل کاسی و گرفتاری خانم عافیه صدیقی و در برابر ظلم وحشتی که از سیزده سال به این طرف از سوی محافظان دروغین صلح در کشور ما صورت میگیرد اعتراضی نکردند؟ در زندان بگرام چه وضعیتی ادامه یافت؟ حین تلاشی خانه ها چه اعمال زشتی که انجام ندادند! ما در سیزده سال گذشته دیدیم مجرمینی که در افغانستان باید اعدام میشدند. نشدند از همین جهت گراف جرایم روز بروز بالا میرفت تا آنکه مجرمین بین المللی در کشور عرض اندام کردند. پولیس جرأت گرفتاری آنها را نداشت. څارنوال از اقامهٔ دعوا می هراسید و قاضی از محاکمه آنها دلهره داشت؛ زیرا آنها هم به مصونیت نیاز داشتند. بالاخره دیدیم که وضعیت در شهرها به کجا کشید. این تنها مخالفین مسلح دولت نبودند که با حملات انتحاری و ماین گذاریها و بمب گذاریها وضع امنیتی را تهدید میکردند؛ بلکه این مجرمین خطرناکتر از آنها بودند. بخصوص سرمایه داران و تجار ملی که قطعاً در برابر آنها احساس مصونیت نمیکردند. تعدادی را اختطاف کردند و در برابر رهایی آنها پول گرفتند. تعدادی را هم به قتل رسانیدند و ده ها واقعهٔ دلخراش را باعث شدند. اگر سازمان عفو بین الملل و ادارات حقوق بشر به حیات چند مجرم حرفوی وقعی می گذارند پس چرا به حیات یک ملت سی میلیونی که هر لحظه حیات شان با تهدید مواجه است وقعی نمیگذارند. بجای آنکه دولت افغانستان را تشویق کنند که با این پدیدهٔ شوم برخورد جدی و قانونی کند، اقدامات قانونی آن را با الفاظ ناپسند تحت سوال می برند.

سازمان عفو بین الملل و ادارات حقوق بشر غرب با کشورهای غرب و کشورهای شرقی برخورد دو گانه دارند، در همین نزدیکیها قتل عامی را که اسرائیل در نوار غزه در برابر ملت بیدفاع فلسطین براه انداخت کجا بودند این نهادهای دروغین حقوق بشر که اعمال جنایتکارانهٔ اسرائیل را محکوم میکردند و به دفاع از حقوق انسانی فلسطینیان مظلوم می پرداختند، بخاطری که کشورهای استعمارگر غربی در عقب اسرائیل قرار داشتند و اسرائیل را تشویق به جنایت میکردند.

غرب همیشه در برابر کشورهای بخصوص جهان سوم روشی را در پیش گرفته است گویا که غرب بادار باشد و این کشورهای جهان سوم مزدور. برای در بند اسارت کشاندن این کشورها در عرصه های مختلف ادارات و نهادهایی را بوجود آورده اند که همواره به نفع غرب کار میکنند. بانک جهانی و صندوق وجهی بین المللی در عرصهٔ اقتصادی به نفع غرب فعالیت دارند و خون ملتهای فقیر را مکیده و از همین طریق خواستهای کشورهای استعمارگر غرب را بر آنها می قبولاند. مطبوعات غرب همواره توجیه گر اعمال استعمارگرانهٔ غرب است. بهمین ترتیب نهادهای نام نهاد حقوق بشر و سازمان عفو و امثال آن به نفع کشورهای غربی موقف میگیرند.

غرب میخواهد جهان در همهٔ عرصه های زندگی از غرب پیروی کند و کشورهای عقبمانده و در حال رشد هر خوب و بد غرب را باید چشم پوشیده بپذیرد. غرب است که باید در تمام عرصه های زندگی به کشورهای جهان سوم نسخه بدهد، در حالی که غرب خود در ساحات مختلف دیگر در حال سقوط قرار دارد، آنچنان که نام کمونیزم بالاخر سقوط کرد و مهد کمونیزم پارچه پارچه گشت. اکنون نظام غرب هم در آستانهٔ سقوط قرار دارد. نظام کمونستی هم بخاطری سقوط کرد که جوابگوی نیازمندیهای جامعهٔ بشری نبود، به همین اساس در هیچ گوشهٔ دنیا نظام کمونستی بر اساس انتخابات و آرای مردم بوجود نیامده بلکه از طریق کودتاها و انقلابات بر جوامع مختلف تحمیل شده است تا آنکه امروز بسطح جهانی ناکام شد. بهمین ترتیب نظام سیاسی غرب دیگر جوابگوی خواستهای بشر نیست و فقط همیشه از در تفتین و از در اعمال فشارهای گوناگون بحیات استعماری خود ادامه داده است و با فطرت سلیم انسانی سرسازگاری ندارد.

غرب به آزادیهای ملت جهان سوم و حتی در مجموع کشورهای شرقی احترام قایل نیست بناء بخود حق میدهد از طرق مختلف هر گونه اجراآت این کشورها را تحت سوال ببرد. ما در کشور خود طی سیزده سال گذشته بچشم سر دیدیم که همین کشورهای غربی در برابر پدیدهٔ حقوق بشر چگونه روش غیر انسانی را اعمال کردند؛ ولی نهادهای غربی از جمله حقوق بشر همیشه کور خود، بینای مردم هستند. اگر کشورهای استعمارگر و خون آشام غربی بدون کدام دلیل موجه هر نوع جرم و جنایتی را مرتکب شوند، عیبی ندارد؛ ولی اگر دولت افغانستان چند نفر مجرم حرفوی را براساس قوانین نافذهٔ کشور محاکمه میکند، باید غوغای نهادهای به اصطلاح حقوق بشر غربی بالا شود. این در حقیقت عدم احترام گذاری به استقلال یک کشور و قوانین نافذه یک کشور است. ضرور نیست این ادارات در همه چیز بخود حق مداخله و ابراز نظر بدهند. این ادارات اگر واقعاً برای حقوق بشر کار میکنند اولاً ببینند که کشورهای غربی در برابر ملتهای فقیر چه سیاستی را اتخاذ کرده اند. ایا حقوق بشر بنزد آنها ارزشی دارد؟

برگزاری نخستین نشست شورای...

یقین دارد که هریک از وزرای سرپرست، این تعهد ملی را در سطح سیاسی و اداری نسبت به ادارهٔ کشور و مردم افغانستان دارند که آنرا تا زمان پوره شدن وظایف شان، با کمال تعهد و صداقت به پیش می برند.

وی علاوه کرد دراین شکی نیست که وقتی انتخابات صورت میگیرد، تغییرات به وجود می آید و این بر کابینه و در سطوح تعیینات سیاسی تاثیر دارد؛ اما اداره افغانستان نباید بخاطر تغییراتی که به وجود آمده و یا در پیش رو است معطل شود.

این درحالی است که ریاست جمهوری گفته است که در کمتر از یکماه دیگر، کابینهٔ جدید اعلام میگردد و تا آن زمان، وزیران فعلی به حیث سرپرست ایفای وظیفه نمایند.

رییس اجرایی حکومت گفت: "بنابرشرایطی که درافغانستان رونماشد، بخصوص جریانات انتخابات، یک مدت در کارها معطلی به وجود آمد و کارها با سکتگی مواجه گردید؛ اما امیداست که بعدازاین، با در نظرداشت چالشهای بزرگی که افغانستان با آن مواجه است، فرصتها را ازدست ندهیم؛ چون مردم ازما توقع دارند."

وی افزود که در جلسات آینده، نه تنها گزارشاتی که از وزارتها خواسته شده ارایه خواهد شد، بلکه یک قسمت اولویتهای وزارتها که عملی نشده، به شکل کتبی به شورای وزیران ارایه میگردد تا در جلسه کابینه، روی آن بحث شود.

گفتنی است که بعداز این، جلسات شورای وزیران به ریاست رییس اجرایی، هفتهٔ یکبار و جلسهٔ کابینه به ریاست رییس جمهور در ماه یکبار برگزار خواهد شد.

داکتر عبدالله گفت که حکومت وحدت ملی، باید به وفاق ملی درسطح کشور منجر شود و حکومت خدمتگذار به مردم باشد و همبستگی ملی و عدالت اجتماعی را به معنای واقعی تمثیل کند و به مردم افغانستان، حکومت پاسخگو باشد و این تعهدی است که همه همکاران به آن خود را مصمم میدانند.

درنشست امروز شورای وزیران، وزارتخانه های مربوطه گزارشات شانرا درمورد عواید ملی و صفرشدن بودجه عادی کشور و مشکلات دیگر، انتقال مواد اولیه غذایی به ولایات آسیب پذیر در زمستان، بازنگهداشتن شاهراه سالنگ، طی مراحل قانون مبارزه باتروریزم و آمادگی ها برای نشست لندن و سارک ارایه خواهند کرد.

رییس اجرایی حکومت، برتطبیق قانون و مبارزه جدی با فساد اداری، حکومتداری خوب، تامین امنیت سراسری و اصلاحات گسترده درنظام انتخاباتی تاکید کرده گفت که هدف از همه این اصلاحات، آوردن تغییر وبهبود در زندگی مردم و بهبود وضعیت امنیتی و اقتصادی کشور است.

داکترعبدالله گفت که افغانستان در تامین روابط خوب با همسایگان و ایجاد فضای بهتر مناسبات با دوستان بین المللی، مصمم به تحقق برنامه های حکومت وحدت ملی دراین راستا میباشد.

انجنیر محمدخان معاون اول رییس اجرایی حکومت، دراین نشست گفت که حکومت فعلی با چالشهای زیادی مواجه است؛ اما با وحدت میتوان با این مشکلات فایق آمد.

وی افزود: "افرادی که در کابینه آینده مقرر میشوند، اگر بجای رفتن به دبی و یا کشورهای اروپایی و امریکا، به ولایات سفر نمایند، فاصله میان مردم و حکومت از بین خواهند رفت."

محمد محقق معاون دوم ریاست اجرایی گفت که تغییرات به وجود خواهد آمد؛ اما از وزیران سرپرست میخواهد که تا زمان تشکیل کابینهٔ جدید، دلسردی ها را ازبین برده و با دلگرمی کارکنند و کسانیکه کارصادقانه کرده اند، فراموش نمیشوند.

محقق خاطرنشان کرد که چون زمستان در حال رسیدن است و معمولاً در زمستان مردم با مشکلات رو به رو می شوند، توقع این است که قاطعاً و مسؤولانه به وظایف شان عمل نمایند.

ولسمشر دې زر تر زره ...

هغه وزارتونه، ریاستونو او خپلواکې اداري منحلې کړي، چې اداري تشکیلات یې پرسولي، خو د چارو په سمون او پرمختګ کې ګټور نه دي تمام شوي.

ولسمشر اشرف غني احمدزي ویلي، چې؛ د لوړې تر مراسمو وروسته د پنځه ځلوېښتو ورځو په جریان کې به نوې کابینه اعلان کړي او د هغوی په ګمارنه کې به د پوهې، تخصص او ژمنتیا معیارونه په پام کې ونیسي.

د ولسمشر اشرف غني احمدزي له لومړیو څرګندونو دا په ډاګه سوې چې د اداري فساد په وړاندې مبارزه یې د کار لومړیتوب دی څکه خو وايي چې غواړي اهل کسان په دندو وګماري او دا کسان د هېواد او خلکو لپاره کار وکړي.

په افغانستان کې ولسي وګړي هم له نوې حکومت څخه تر مخکښې ډېرې تمې څکه لري چې د کمپاینونو پر مهال ور سره زیاتې ژمنې شوې دي.

ډاکتر عبدالله عبدالله له حامد ...

قدرداني وکړه.

ډاکتر عبدالله عبدالله، حامد کرزي یو تجربه لرونکی او پیاوړی سیاستوال وباله او ژمنه یې وکړه چې دا ړتیا په وخت کې به ده له تجربو او سلاشورو څخه دافغانستان دخلکو د ژوندانه دبه والي په مقصد استفاده وکړي.

په مقابل کې حامد کرزي دملي وحدت دحکومت بریالیتوب ځپله هیله وبلله او دملي وحدت دحکومت له پروګرامونو سره یې دخپلې همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

ترکیه د «اسلامي دولت» پرضد...

امریکا متحد ایالات او متحدین یې کولای شي د دې هیواد له خاورې او اړو څخه کار واخلي.»

دغې امریکایي چارواکي روښانه کړې ده چې اوس نو امریکا متحد ایالات او متحدان یې کولای شي په ترکیه کې د سوریې رژیم منځ لاري مخالفان وروزي. هغه ویلي دي: «پر دې سربیره هغوی ویلي دي چې په ترکیې کې د هغوی اوې د امریکا او متحدینو له خوا یې په سوریه او عراق کې د عملیاتو په موخه کارول کیدای شي.»

په عین حال کې د امریکا متحدو ایالاتو د دفاع وزیر ویاند ویلي دي چې امریکایي وزیر له خپل ترکي سیال څخه له دې کېبله مننه کړې ده. د اسوشیټد پرس خبري آژانس ویلي دي چې ترکیې په خپله خاوره کې د ۴۰۰۰ کسانو له روزل کیدو سره موافقه کړې ده. خو ټینګار شوی دی چې دغه کسان باید لومړی د ترکیې د استخباراتي سازمان له خوا وڅېړل شي. امریکایي چارواکو تر دې دمخه د انجیرلیک له هوایي اډې څخه چې ۱۵۰۰ امریکایي عسکر پکښې میشت دي څپل عملیات ترسره کړي دي. ویل کیږي چې د اسلامي دولت ډلې پر ضد د امریکا متحدو ایالاتو هوایي عملیات اوس په متحده عربي اماراتو، کویټ او قطر کې له امریکایي اډو څخه ترسره کیږي. ترکیې چې د ناټو غړی هیواد دی، تر اوسه پورې له دې څخه ډډه کوله چې د اسلامي دولت ډلې پر ضد عملیاتو کې په مستقیم ډول ښکیل شي او پر ځای یې د دغې ډلې پر وړاندې د یوې ګډې ستراتیژۍ پر رامنځ ته کیدو باندې ټینګار کاوه.

د یکشنبې په ماښام د غزې تړاوي له پاره د مرسته کوونکو په یوه کنفرانس کې د امریکا متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري، له ترکیې سره پر پوله پروت ښار کوباني کې د وضعیت حساسیت ته اشاره وکړه او ویې ویل: «موږ ټول په کوباني کې د پرمختګ د ریوټونو په اړه اندېښمن یو او وضعیت له نږدې څارو.

په حقیقت کې موږ یوازې وضعیت نه څارو، بلکې پکښې د هوایي بریدونو له لارې ونډه اخلو چې تر اوسه پورې لا ډېر بریدونه ترسره شي.»

اشتراک نیروهای آلمان در عملیات...

در افغانستان داشتن توقعات بیش از حد بوده است.

وی نوشته است: "ما نه تنها خواهان از بین بردن تهدید امنیتی که از افغانستان متصور بود، بلکه خواهان سوق سریع آن کشور به یک آینده بهتر مطابق دیدگاه خود نیز بودیم."

به گفته وی، با وجود پیشرفت ها در افغانستان، اینکشور هنوز هم درگیر فساد گسترده و قاچاق مواد مخدر است.

وزیر خارجه آلمان در مطلب اش نوشته است، جنگ سالاران در چندین ولایت افغانستان نفوذ وسیع دارند و همچنان گروه تندرو طالبان از مدت طولانی به عنوان یک بازیکن سیاسی دست کم گرفته شده اند.

اما وی افزوده است، تصمیم اعزام نیرو به افغانستان نباید به عنوان یک شکست مطلق ارزیابی شود، وی با اشاره به وضعیت عراق و سوریه گفته است که نتایج در افغانستان نسبتاً قابل پذیرش است.

اشتان مایر گفته است، آلمان نه تنها در زمینه های نظامی بلکه باید فراتر از آن با افغانستان همکار باشد.

فرانک والتر اشتاین مایر همچنان در مطلب نوشته شده اش در مورد خروج نیرو های امریکایی از افغانستان هشدار داده و آنرا عجولانه خوانده است.

وی خروج نیرو های امریکایی در ختم سال جاری از افغانستان را مشابه با خروج نیرو های امریکایی در سال ۱۹۷۵ از ویتنام خوانده است.

بعد از ایالات متحده امریکا و بریتانیا، آلمان سومین کشوریست که بیشترین تعداد عساکرش در افغانستان مستقر اند.

پس از ختم سال جاری که قرار است بخش اعظم از نیرو های خارجی افغانستان را ترک کنند، ماموریت جدید ناتو از جنوری ۲۰۱۵ با ۹۸۰۰ سرباز امریکایی ۳۰۰۰ عسکر آلمانی، ایتالیایی و کشور های دیگر آغاز خواهد شد.

این تعداد تا ختم ۲۰۱۵ بیشتر کاهش یافته و قرار است در ۲۰۱۶ میلادی تنها یک تعداد عساکر محدود ایالات متحده امریکا به هدف تامین امنیت سفارت آن کشور در افغانستان باقی بمانند.

از سوی دیگر مجله دیر اشپیگل آلمان دیروز گزارش داد انگلا مرکل صدراعظم این کشور به یک کمیته پارلمانی کشورش گفته است، باور ندارد که اردو و پولیس افغان تا آن زمان طوری تجهیز شوند که بتوانند مسولیت ها را کاملاً به عهده بگیرند.

بر اساس گزارش دیر اشپیگل، قرار است مرکل در مورد تمدید ماموریت نظامیان خارجی بعد از ۲۰۱۶ در افغانستان با مقامات امریکایی صحبت کند.